by kabeer
afghanov

# منشور و آئین

پښتونخوا سټوډنټس آرګنائزیشن
P S O

بسم الله الرحمن الرحیم

# منشور

۱: د کړان او تاریخي وطن ټول وطنپال، روښان فکره، جمهوري او مُترقي طالب علمان او د وطن او ولس له خپلواکۍ او ترقي سره مینه لرونکي باسواده ځوانان پر یوه پلیټ فارم متحد کول او په علمي جهان بیني با تدي د هغوی ذهنونه منور کول او د افغان میړني اولس د ملي آزادۍ، جمهوریت، ټولنیز عدالت، امن، ترقي، د انقلابي ملي سیاسي لینکر دیوې دستې په حیث د لوستونکو د تعلیمي او ټولو جمهوري حقوقو لپاره جد وجهد کول.

۲: جدید ترقي یافته نظام تعلیم رائجول، تعلیم عام کول، او د ټولو وطنپالو لپاره مفت تر میټرک لازمي کرزول.

د سائنس او ټیکنالوجي د عصري تقاضو مطابق نصاب تعلیم مرتب کولو، د ښوونې او روزنې د جدید ادارو د قائمولو او د هر ولوفني او پیشه ورانه تعلیم ته و ده ورکولو لپاره مبارزه کول.

۳: پښتو او پښتون وطن کښې دا وسېدونکو مورنۍ ژبې سرکاري تعليم تر ميټرک او بيا ورپسې د پوهنتون تر سطحې تول تعليم په خپله مورنۍ ژبه رائج کول، او پښتو ژبې ادب او لسي ثقافت ترودې ورکول.

۴: په تعليمي ادارو کښې د نظرياتي ازادي علمي او جمهوري فضاء قائمول، او تعليمي ادارو کښې تفاوت ختمول او بلا رنګ نسل زبان، طبقه، مذهب، او د هر وګړي لپاره يو ډول تعليمي اسانتياوي برابرول.

۵: د استادانو، تارلوړول، د هغوی د ملازمت او د هر ډول جمهوري حقوقو لپاره مبارزه کول.

۶: تعليم او د ژوند په ټولو برخو کښې د ښځې او نر د برابري حقوق عملي کول.

۷: د مستعمره مشرقي پښتونخوا (موجوده صوبه سرحد) مستعمره جنوبي پښتونخوا رموجوده بلوچستان پښتون علاقې) پر وحدت مبنی د پښتون اولس د قومي حق خود اختياري پر بنياد د پښتونستان يا د پښتونخوا په نامه خپلواکه صوبه قائمول.

۸ : په ملک کښي استعماري حکمراني نسکورول او دبرابري، سيالۍ اوباهمي احترام پربنياد دبلوڅ، سندهي سرائيکي محکوموقومونو دقومي، جمهوري او دپنجاب دزبېلي اوزيارکښ اولس اونورجمهوري تحريکونوسره دپښتون دملي خپلواکي جمهوري اولسي تحريک دمتحدکولواو دپښتون اولس د دجمهوري اقتدار په لاس ديوې مترقي ټولني دجوړولو په لارکښي دثوري ټولنيز انقلاب يعني دقومي آزادۍ جمهوري انقلاب وتکميل ته رسولولپاره مبارزه کول.

۹ : دساينسي مفکورې په رڼاکښي دوطن دملي خپلواکۍ اوجمهوري تحريک متحدکول او په محکوم (مستعمره مشرقي اوجنوبي پښتونخوا) ونيم محکوم (منځني پښتونخوا آزادپښتون قبائل) باندي دزيارکښ افغان اولس دقومي اختياراوجمهوري سياسي اقتدار راوستلولپاره مبارزه کول.

۱۰ : ملکي آئين کښي دقرآن اوسنت مخالف دفعات نه پريښودل.

۱۱ : آزادتاريخي افغانستان دوطنپال اولس دافغان خاوري تماميت، ملي استقلال امن جمهوريت، ترقي او

خوشحالي، ملي او اولسي ارمانونو پوره کولو د پاره مبارزه کولو کښې د هغوی حمایه او فعاله برخه درلودل.

۱۲ : د سامراجي استعماري (گماشته) او جاگیردارئ نظام د ختمولو او د ملي خود مختیاري او ټولنیز عدالت د قیام لپاره په ځوانانو کښې قومي او طبقاتي شعور پیدا کول او د ځوانانو د ذهني او بدني روزنې او نشونما لپاره علمي ادبي، هنري ثقافتي او دلوبو پروگرامونه ترتیبول، کلتوري اداري تشکیلول

۱۳ : د خطې او ټولې نړۍ د ځوانانو له جمهوري سازمانونو سره د باهمي همکاري او پیوستون اړیکې ټینګول او په متحد ډول د نوي نسل د تعلیمي او هر ډول جمهوري حقوقو لپاره مبارزه کول.

۱۴ : د ټولې نړۍ د محکوم قومونو او د مظلوم انسانانو د ازادئ د جمهوري جدوجهد حمایه او د ټولې نړۍ د سامراج د ښمن جمهوري قوتونو ملاتړ کول او د خپل اولس په ذریعه له هغوی سره تر خپل وسه اخلاقي او مادي مرستې کول. او له هغوی نه د غسې حمائې او کومک هیله کول.

۱۵ : د زوړ او نوي استعمار، صیهونیت، نسل پرستي

مذهبي فرقه پرستۍ جنونيت او بنياد ګرۍ په خلاف د اولسونو
او قومونو د آزادۍ، برابرۍ او انسان دوستۍ په حمايت کښې
نه ستړې کېدونکې مبارزه کول.

# آئین
## لومړی فصل:

## ۱ - نوم، بیرغ، آرکن او مرکزی دفتر

### (۱) نوم:
پښتونخواسټوډنټس آرګنائزیشن (P.S.O)

### (ii) مرکزی دفتر:
چیرته چې یې مرکزی کمیټه مناسب وګڼي

### (iii) آرګن:
رښتیا:

بیرغ:

(ii) بیرغ: بالترتیب سور سپین او زرغون رنګ دري واړه برخې په اوږدوکښې برابر دي او پراوږده تر وساره دوه کون دي. سور رنګ د مبارزې او قربانۍ سپین رنګ د امن او زرغون رنګ د آبادۍ او خوشحالۍ، سور غوړیدلے کتاب د طالب علم نخښه او لمر د رڼا مظهر دی.

# مونوکرام؛

زموږ مونوکرام د نړۍ د کلوب په پس منظر کښې د پښتنو د غزيځ هيواد پرجګو غرونو د لمر وړانګې ښکاري او دا وړانګې د پښتنو د راتلونکې روښانه ورځ ښکارونکې دي. خپلواکي، پوهنه، ټولنيځ عدالت او ښه ورور ولي د ژوند ښکارونکي دي.

خو دا هم بېځي ښکاره خبره ده چې د دغه ښه روښانه ورځ کتنه به له دغو دوو شيانو لکه کتاب او ټوپک چه په مونوکرام کښې انځور شوي دي تر دې ورسته هيڅ يو هم ممکنه نه ده کړې.

د مونوکرام په لاندې برخه کښې د غنمو وږي د ستر احمد شاه بابا له وخته زموږ ملي سمبول او نښان دئ چه د هيواد سمسورتيا او ودانۍ ښکاروي.

د نړۍ هيوادونه يو له بل سره په جغرافيائي، معاشي سياسي او ټولنيځ مزيو تړلي دي. د شريکو ګټو پر بنسټ نړۍ وال اتحادونه جوړ شوي دي، د امن جمهوريت ازادي او ټولنيځ عدالت غوښتونکي په يو او د ښمنان په بل قطار کښې ولاړ دي او د نړۍ ښه او بد پر پښتو غوا او د ښتو غوښتنه او بد پر نړۍ اثر شندي ځکه خود

پښتونخوا د ازادۍ جمهوریت، تولنیځ عدالت او امن انقلابي بهیر له امن کیمپ کارکړی تحریکو او د ملي ازادۍ له غورځنګو سره په نه شلېدونکې ډول تړلې دی. په موږ کرام کښې کلوب د دے ښکار ندوی دۍ.

## ۲- غړیتوب

د پښتونخوا د مستعمره او نیم مستعمره خاورې او وسېدونکۍ هر زلمۍ او پېغله که استوګنه يې له وطنه د باندې په نورو وطنونو کې وی هم او که مورنۍ ژبه يې پښتو نه وی هم چې د پښتونخوا د ګران او ښکلي وطن او د هغه د ویاړلي افغان اولس له ملي خپلواکۍ، سرلوړی، ترقی او خوشحالی سره مینه لرونکی وي دیوې تعلیمي اداری (د سکول) باقاعده یا پرائیویټ طالب علم وی د پي ایس او د منشور او دستور په فکری او عملي ډول قبولولو سره د پښتونخوا ستو ډ نټس آرګنائزیشن غړی جوړیدلای شي.

## ۳- (الف) د غړیتوب شرطونه

(۱) هر هغه طالب علم چې د مستعمره

اونیم مستعمره پښتونخوا خاورې سره تعلق لرونکي اودوطن له استقلال اوداولس دملي خپلواکۍ، جمهوري واکمنۍ، سرلوړۍ ترقی اوخوشحالۍ سره مینه لرونکی عمري دیارلس[۱۳] کاله وي.

(ii) د پښتونخوا ستمو د نیشنل عوامي ګوند د مرکزي کمیټی یاد هغې دتا کل شوې اداري له خوا جاري شوي د غړیتوب

(ii) د پښتونخوا ستمو د نتس آرګنائزیشن له منشور، او دستورسره فکراً اوعملاً اتفاق کوي.

(iii) دبې الیس اوپه یوه یونټ کښې کډون کول، تنظیمي چارې سرته رسول، دتنظیم پرنیصلوعمل کول او دتنظیم ډسپلن قبولول.

(iv) دبل تنظیم غړیتوب به نه لري.

(v) دتنظیم دغړیتوب (فارم) لاس لیک کول او دتنظیم دیوه یونټ دسکرتریټ په مخ کې د ګډون اعلان کوي.

(vi) دیونټ دتاکل شوې کمیټی له خوائې غړیتوب توثیق اوشي.

(vii) د پښتونخوا ستمو د نتس آرګنائزیشن دمرکزي کمیټي یادهغې دتاکل شوي اداري له خوا جاري سوي دغړیتوب